# عرفان او ادب

**لیکوال: پوهیالی سراج احمد ژواک**

**لنډیز**

د داسې خبرو د څرګندولو غوره وسیله چې څرګندول یې د ویناوال پر وړاندې ستونزې را ولاړوی شعر دی؛ پر همدې اساس صوفیانو او عارفانو ته چې ډېری خبرې یې د استدلال او منطق پر تول پوره نه خېژی، شعر د خپلو افکارو د څرګندولو ښه وسیله ده. سالک چې په سلوک کې د کومو مشاهدو او تجربو سره مخامخ کېږی، د شعر په مرسته یې په اسانی سره له نورو سره شریکولی شی. ځکه شعر د زمان او مکان په قید کې نه وی؛ هغه خبرې چې اوس او په یوه ځای کې یې ویل ناشونی وی، ښایی په راتلونکې کې او بل ځای یې په سره سینه خلک واوری.

د صوفیانو او عارفانو د مشاهدو او تجربو انځورول هم نورو ته چې لا تر اوسه یې داسې کوم څه نه وی لیدلی، د دوی پر وړاندې یوه ننګونه ده؛ خو د شعر په مرسته چې د مخاطب خیال پرې پارېږی، کولای شی چې هغوی هم د ځانونو سره د خیال پر مټ په دې مشاهدو او تجربو کې شریک کړی. ځکه خیال د نالیدلو څیزونو د لیدلو لپاره غوره وسیله ده.

**بنسټیز ویونه: شعر، سمبول، تصوف، عرفان، سماع او وجد.**

**سریزه**

که څه هم له ډېرو کلونو را هیسې تصوف او ادب او په تېره بیا د ادب یو جز شعر او تصوف یو له بل سره غاړه غړی شوی دی؛ خو د دې غاړه غړی کېدو د لاملونو په اړه یې لا تر اوسه پورې د ځینو څېړونکو سره پوښتنې موجودې دی. هغه هم په داسې حال کې چې زموږ او ستاسو د پښتو او دری ژبو د ادبیاتو ډېره بډایه برخه عرفانی او تصوفی ادبیات دی، ښایی د دې یو لامل دا هم وی چې افغانان له لویه سره خدای(ج) پالونکی او په دین مین خلک دی؛ نو ځکه به یې د ادبیاتو ډېره برخه هم د نورو اولسونو پر خلاف چې هغوی یوازې د روحی تسکین وسیله ترې جوړه کړې؛ خدای (ج) پالنې او لمانځنې ته ځانګړې شوې وی.

نو اوس د هغو څېړونکو سره چې د عرفان او ادب د پیوند د لاملونو په اړه ورسره لا تر اوسه پورې ځینې پوښتنې موجودې دی، وپتېیل شوه چې د هغوی دې ډول پوښتنو ته په دې مقاله کې ځواب ورکړل شی.

**عرفان او ادب**

تصوف په عشق او ریاضت نفسی تزکیه ده، د هر مذهب او فرقې په خلکو کې د هغوی په ټولنیزو رنګونو کې رنګ دی، خو هغه د تقویم الحق کاکاخیل مرحوم خبره: «د پښتنو په ختـه کې اخښلشوی دی، د ارزانی او دولت نه واخله تر حمزه شینواری پورې د پښتو شاعری هیڅ دور د تصوف نه خالی نه دی پاتې شوی.» ( ۴: ۷۱)

د پښتو د ګاونډې ژبې «فارسی» هم همدا حال دی، بلکې په ډېر وثوق سره سړی ویلای شی، چې تر پښتو نه یې دا ډول ادبیات ډېر بارز او د هغې په پرتله یې قلمرو ډېر ویړ او پراخ دی. ځکه د غزنوی سنایی نه واخلئ، چې د لومړی ځل لپاره یې په ډېره استادی او مهارت عرفانی افکار پر فارسی شاعری ورګډ کړل.( ۵: ۳۰۰) تر رودکی، حکیم سنایی غزنوی، انصاری، شیخ فریدالدین عطار، مولانای روم، حافظ، سعدی، جامی، میرزا عبدالقادر بیدل او نورو پورې یې نیږدې ټولو عرفانی او تصوفی شاعری کړې ده.

خو خبره اوس دا ده چې دا دومره ډېر عرفانی ادبیات ولې وپنځول شول اوعرفان او تصوف چې له لویه سره خدای پالنه او د نفس تزکیه ده، له هنر او ادب سره څه تړاو لری؟

د دې پوښتنې په ځواب کې لومړی باید ووایو چې تصوف او عرفان هغه وخت ادب ته مخه کړه، چې د تصوف د بغدادی ښوونځی پلویانو ته، چې ماورا الماده او میتافزیک مسایل یې پر منبرونو

بیانول، د مرګ ګوابنونه وشول او حتی ځینې هغوی خو یې په کې آن تر کومی هم ورسېدل. نو د دې ښوونځی پر خلاف او د هغې په لمن کې د روزل شوی خراسانی ښوونځی پلویانو پر خپلــې تګــلارې تر غور وروسته وپتېیله چې د قلم او کتابت له لارې خپلو موخو ته ځانونه ورسوی. ځکه په دې لار کې سمبول، چې په مجازی معنا سربېره حقیقی معنا هم لېږدوی، د یوې ښې وسیلې پــه توګــه د دوی سره د خپلو اندونو په ځرګنداوی کې مرسته کولای شوای.

ځکه د مستقیمې ژبې کلمې یوازې یوه معنا رسوی؛ خو په مجازی ژبه کې کلمې څــو معنــاوې لری او هر اورېدونکی یا لوستونکی ترې بېله معنا اخلی؛ نو مجازی ژبه د روانی غوښتنو غوره انځــور وړاندې کوای شی او د شاعر پر وړاندې کړې معنا سربېره نورې معناوې هم لېږدوی. په مجــازی ژبــه کې د حقیقی ژبې غوندې (۲+۲ = ۴) نه کېږی، بلکې کلمې نورې معنــاوې اخلــی او دا معنــاوې پــه ساینسی منطق نه، په هنری منطق تلل کېږی. کاروان وایی:

شاعر په هوش کې نه ؤ د غاټول په باب یې دا وې
ســـــره وینـــه د هـــوسیو له پرهـــــاره ښویېدلې

دا مسره «سره وینه د هوسیو له پرهاره ښویېدلې» یوازې په هنری محک معلومېدای شی، چې ادب دا چاره د بدیعی صنعتونو په مټ ترسروی. لوستونکی پوهېږی، چې غاټول یا لاله ته د غاټول پر ځای «دهوسیو له پرهاره ښویېدلې سره وینه» هسې نه ده ویل شــوې. شــاعر د خپــل احــساس او حالت د لېږد هڅه کړې، ځکه پر مجازی لار را تاو شوی دی.

د احساساتو په دقیقه انځورونه کې یوازې د مجازی معناوو ښښتن الفاظ نه لری، بلکې د شــعر وزن او داخلی موسیقی هم لوی رول لوبوی. د کلمو موزونه اوډنه، د یو رنګ آوازونو تکرار او حتی د ځینو آوازونو وینګ(تلفظ) د یوه کیفیت په دقیقه انځورونه کې له شاعر سره لاس کولای شــی. وزن د پاسنی شعر خوند دوه ګرایه کړی دی. د شعر موسیقیت د لوستونکی یا آورېدونکی پر احساســاتو ژور اغېز کوی.

ښایی په تصوف کې د شعر پر ارزښت پوه شوی یئ. تصوفی تجربې اشراقی او شــهودی وی. دا کیفیتونه د مستقیمې ژبې یا د علمی استدلال له لارې نه شی وړاندې کېدای. د تصوف علمــی نومونــې (اصطلاحات) همدا هڅه ده، چې تر سمې معنا یې ورانپوهاوی ډېر ټوکولی دی؛ نو صوفیان خپلې دغه پېچلې نا ځرګندې روانی او قلبی تجربې په شعر کې را نغښتې. (۶: ۷۰، ۷۱)

عرفانی او تصوفی تجربې چې شهودی او اشراقی تجربې دی، د عقل او شعور په ژبه یې د بیان

امکان نشته. په دغه لاشعوری تجربو د اضدادو د اجتماع(ګډون) او وحدت خبرې کېږی. فانی او باقی یو بلل کېږی. پر دې سربېره د ځینو کیفیتونو لپاره چې په مادی نړی کې نشته، موږ د مـادی څیزونـو نومونه د سمبولونو په توګه کاروو، د ځینو خوبونو تعبیر هم د سمبولونو له لارې کوو؛ ځکه چې زموږ له لاشعوره راوتی شیان کله نا کله هیڅ منطق نه منی او خوبونه د دغو لاشعوری غوښتنو د فـوران او راخوټېدو غوره لار ده.

موږ په عادی ژبه کې معمولاً هغه خبره کوو، چې وربادنې پوهېدلی یو؛ شاعران هـم کلـه کلـه هغه خبره کوی چې په ذهن کې یې معنا ورته څرګنده وی. مثلاً کله چې خپله معشوقه سروه بولـی، د شاعر په ذهن کې دا معلومه وی چې هغه دنګه نجلی یې منظور ده. مګر کله کلـه شـاعر یـو ګونـګ احساس لری. دغه ګونګ او ژور احساس چې ممکن د بنیـادم د لاشـعور پیغامونـه پـه کـې وی، د خوبونو غوندې سمبولیکې ژبې ته محتاج دی.

پر دې سربېره راز پټونه د تصوف په بنسټی آرونو کې راځی. که یو صوفی خپل دغه اشراقی او له خپل حقیقی معشوق سره د پیوستون رازونه اوڅار کړی؛ نو ښایی معـشوقه یـې لـه خپـل دربـاره وشړی. د شبلی خبره ده:«... ما وپوښتل، چې د منصور غوندې نژدې ملګری او خپل لېونی میـن دې ولې په داسې مرګ وواژه؟ ځواب یې راکړ، چې منصور زما راز په بازارونو ګډ کړ او اغیار یې راخبـر کړل....»(۶: ۷۵) غنی خان وایی:

منصور یو لېونی ؤ، د جانان آداب یې هـــېر کړل
منصور یو لېونی ؤ د مستی شراب یې ډېر کـــړل
وې مســـتی دا زما نه ده د جانان د سترګو نور دی
زما د خـــــــولې خبرې هم تورات او هم زبور دی
دا رنګ زما د سترګو نه دی رنګ دی د جـــــــانان
دا شرنګ زما سینه کې د ښپو شرنګ دی د جانان

(۷: ۴۶۶)

په یوه بل ځای کې بیا د راز د پټولو لامل ښیی:« یارانو ته وصیت کوم چې کله درته په باطـن کې د معنا ناوې مخ ونمایی او اسرار درته معلوم شی، نو احتیاط کوئ، چې اغیار درخبر نـه کـړئ او حال ورته ونه وایاست او زما دا خبره چې آورئ، هر چاته یې مه کوئ... تاته که یو شاهد یا معـشوقه درشی او ستا په کور کې پټه شی او درته ووایی، زه ستا یم، ما چاته مه ورښییه؛ نو آیا دا به سـمه وی

او مناسبه به وی، چې په بازارونو کې یې وګرځوئ او هر چاته ووایې، راشـه دا ښـکلې ووینـه؟ آیـا چېرې به هم معشوقه په دې کار خوشحاله شی؟» (۶: ۷۶)

عبدالقادر ختک وایی:

شبـــنم وصل د ګل بیا مونده خـــاموش شو
تـــــرې محرومه شوه، چې شور کاندی بلبله
ښه چې ژبه دې قلم شوه په مجـــــــلس کې
شمـــــــعې تا چې د خپل سوز قصـــه ویله

( ۳: ۳۴)

ځینې پوهان بیا په سمبولونو کې د خبرې د نغښتیا لامل د فقهي علماوو او واکمنو ارزښتونو وېـره بولی، ځکه ځینې صوفیان په داسې خبرو ـ لکه منصور ـ وژل شوی او ځـورول شـوی دی. څرنګـه چې د زیاترو صوفیانو موخه د اسلام تبلیغ ؤ، عامو وګړیو ښایی په داسې خبرو له دوی کرکـه کـړې وای. ځینې خو لا داسې هم شته، چې له وګړیو د ګوښه توب لپاره یـې دا رنګـه خـبرې کـړې دی. بایزید چې منورې مدینې ته، ته او په ځان پسې یې د خپلو عقیـدتمنو لـوی لـښکر ولیـد د ځـان د خلاصی لپاره یې ورته کړه، چې زه خو خدای یم، دا خلک هسې زما لمانځنه نه کوی، پـه دې سـره ترې خلک خواره شوی وو.

صوفیانو ته څرګنده وه، چې په دې خبرو چې د شریعت له ظاهری اړخ سره ډېر اړخ نـه لګـوی، عوام نه پوهېږی او په ښکاره کولو یې د ولس ترمنځ ګډوډی پیدا کېږی او دا ګډوډی ښایی تـصوف د خپرېدو پر ځای وننګوی. دا خبرې یواځې د خواصو ترمخ کېدای شی. لـه دې سـتونزو سـره سـره تصوفی اسرار او احساسات چې د وتو لار لټوی، صوفیان اړ باسی، چـې پـه سـمبولونو کـې یـې را ونغاړی، ځکه د انسان فطرت دی، چې دردمن یا خوښ وی، نو خپل درد او خوښـی پـر زړه دننـه ایسارولای نه شی او یو چاته یې وایی.(۶: ۷۷) لکه خوشحال بابا وایی:

د خوشحال ختک له عشقه ګفتـــــګوی شی
چې په لوښی کې څه وی هغه تر توی شی

(۲: ۱۷)

استاد فضل ولی ناګار په «عرفان او د پښتو ادب په لرغونې دوره کې یې څرکونه» نومـی اثـر کې د عرفانی ادبیاتو او عرفانی غورځنګ د تړل کېدو یو بل لامل هم را په ګوته کوی او وایی:

«عارفان او صوفیان (حال) ته د رسېدو لپاره چې د الهی رحمت نزول یې ګڼی، په ډېر لوړ ارزښت قایل دی؛ نو دا حیرانوونکې نه ده، چې په صوفیانه مجالسو کې له هماغه ړومبیو څخه د داسې وسایلو لټون په ډېر شدت سره روان ؤ، چې د حال انګېزه رامنځته کړی. ډېر ژر جوته شوه، چې ډېره ګټوره وسیله یې له آواز او ترنم سره موسیقی ده؛ د مشایخو یوې ډلې دغه نوا او نغمه له ادابو او رسومو سره وګڼله او هنری نوم یې ورته (سماع) کېښود.»(۸: ۱۱)

د نوموړی له پورته بحث څخه دا پایله اخیستل کېدای شی، چې له ادب سره د عرفان او تصوف تړل کېدل د عارفانه سماع او وجد په خاطر وو، ځکه سماع پرته له شعر نه ناشونې وی او وجد هم پرته له سماع شونتیا نه لری.

د استاد دا خبره به هم تر یوه ځایه سمه وی، خو د عرفان او ادب د پیوستون تر ټولو قوی لامل هماغه دی، چې عارفان او صوفیان د خپلو ناویلو خبرو د ویلو لپاره د داسې وسایلو په لټه کې وو، چې هم خواصو ته د دوی موخه ښه جوته کړی او هم عوام د دوی له خبرو څخه د خپلو استعدادونو سره اړوند معنا او مفهوم ترې واخیستلی شی، نو دا وسیله له سمبول پرته بله هغه نه شی کېدای او د سمبولونو تر ټولو ښې سرچینې یوازې په هنر او ادب کې وې. په همدې اساس صوفیانو هنر او ادب ته مخه کړه.

له دې پرته شاعران څوک په خپلو ادعاوو او خبرو هم نه شی محکومولی، ځکه په قران عظیم الشان کې په واضحو الفاظو الله سبحانه و تعالی د شاعرانو په باب ذکر کړی دی چې:« و انهم یقولون ما لایفعلون»( سورت شعراء/ ۲۲۶ آیت) یعنې شاعران هغه خلک دی، چې دوی څه وایی، خو پلی کوی یې نه. اوس نو که چېرې کوم عارف او صوفی شاعر په خپل شعر کې ماورا الماده او میتافزیک مسایل او یا داسې خبرې چې ظاهراً له شریعت سره اړخ نه لګوی، بیان کړی خلک یې د محکومولو حق نه لری، ځکه د ډېری متصوفو شاعرانو د شعر معنا مجازی او حقیقی دواړه اړخونه لری، عوام ترې د خپل ذوق او استعداد اړوند معنا او مفهوم اخیستی شی او خواص ترې د خپل ذوق او استعداد اړوند.

نو ځکه به ډېری صوفیانو او عارفانو حتی په وعظونو کې شعرونه ویل؛ لکه د مشهور شیخ ابوسعید ابو الخیر(۳۵۷ـ ۴۴۲هـ) له ژوند څخه ښکاری چې د خراسان د صوفیانو دغه پیاوړی استازی به په وعظ کې څلوریزې ویلې، چې لکه د پښتو ټپې کټ مټ ولسی زېرمه او بنسټ لری. په څلورمه هجری پېړی کې د نیشاپور د مشایخو له تاریخی مطالعې څخه هم څرګندېږی چې د ټاکلی

مهالوېش پر بنسټ به د (سماع) لپاره وخت ټاکل کېده. داسې غونډې به پر تلاوت پیل کېدې، بیا به مرشد پر منبر وعظ کاوه او تر هغې وروسته به ترانې او ترنم پیلېده.

امام غزالی (رح) وایی چې د (سماع) موخو ته د رسېدو لپاره عاشقانه شعرونو او ترانو اړتیا ده، خو دا خبرداری هم ورکوی، چې د نفسانی هوسونو له راپاروونکو شعرونو باید ډډه او پرهیز وشی.

نو مشایخ باید داسې اشعار انتخاب کړی، چې استعاری تفسیر یې وشی، لکه چې دویمه هجری پېړۍ د «رابعه بصری» د همدغسې اشعارو بېلګې لری. نو پر همدې بنسټ پرېکړه کولی شو، چې د تصوف له پیله د عرفانی اشعارو اړتیا پیدا شوې وه، چې استعاری شکل یې درلود.(۸: ۱۴)

تصوفی ادب له لویه سره دوه ډوله دی: یو د صوفی خپلې مشاهدې او تجربې وی، چې ادب ته یې را اړوی او یو هغه صوفیانه شاعری ده، چې د صوفیانو د اثارو او فلسفیانه انداز پایله وی، د دواړو توپیر جوت دی، صوفی له معلومه ځایه ابهام ته ځی او دویمه ډله له ابهامه معلوم ته د تلو هڅه کوی. دا که فلسفه نه وی، نظری عرفان یې ضرور بللی شو. (۴: ۷۱)

کله کله خو په ادب کې د دې دواړو ډلو ترمنځ د بریدونو کرښې هم دومره سره تتې او حتی ړنګې شی، چې څېړونکی په دې ننګوی، چې دا د شاعر خپلې تجربې او مشاهدې دی او که هسې یې د نورو متصوفو او عارفو شاعرانو تر اغېز لاندې تصوفی او عرفانی شاعری کړې ده؟

**پایله**

د پایلې په توګه په ډېر وثوق سره ویلای شو، چې تصوف او عرفان که څه هم په عشق او ریاضت د نفس تزکیه ده، خو له ادب سره هم ډېرې نېږدې اړیکې لری، ځکه ادب د انسان د ذهنی نړۍ د انځورولو تر بلې هرې هغې غوره وسیله ده. او تصوف چې له آره یوه ګروهه ده او د هرې ګروهې سرچینه د انسان ذهن وی. پر دې اساس هر ګروهمن ناچاره وی چې تر نورو پورې بویه خپل اندونه ورسوی. نو ځکه عرفان او ادب یو له بل سره پیوند شول.

دا چاره هغه مهال وشوه چې کله په دویمه هجری پېړۍ کې د بغدادی عرفانی ښوونځی پل یونو ته په دې پار چې ځینې ماوراء الماده او میتافزیک مسایل یې پر منبرونو بیانول د مرګ ګواښونو وشول او ځینې هغوی خو یې په کې آن تر کومې هم ورسېدل، نو پر خلاف یې د خراسانی ښوونځی پلویانو هنر او ادب ته چې له دوی سره یې د هغوی سمبولونو د خپلو افکارو په څرګندولو کې ښه مرسته کولای شوای مخه کړه.

هنر او ادب له صوفیانو سره د حال او وجد، چې دوی یې د الهی رحمت د نزول سبب ګڼي، په رامنځته کولو کې هم مرسته وکړه، ځکه حال او وجد پرته له سماع څخه نه شوای ورته میسر کېدای او سماع هم پرته له شعر څخه شونتیا نه درلوده.

**اخځلیکونه**


۱ـ قرانکریم

۲ـ خټک، خوشحال خان. (۲۰۰۵). **دستارنامه.** د یارمحمد مغموم خټک، تحقیق، سمونه او حاشې. پېښور: یونیورستی بُک اېجینسی.

۳ـ خټک، عبدالقادر.(۲۰۰۲). **دیوان.** د پروفیسور جهانزېب نیاز څېړنه. پېښور: پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون.

۴ـ سالک، مصطفی. (۲۰۱۳). **منشور** (کره کتنه). پېښور: دویم چاپ. دانش خپرندویه ټولنه.

۵ـ سجادی، ضیاء الدین. (۱۳۷۹). **مقدمه ای بر مبانی عرفان و تصوف.** تهران: چاپ هشتم. سازمان مطالعه و تدوین کُتب علوم انسانی دانگاهها (سمت).

۶ـ بنکلی، اجمل. (۱۳۹۴). **تصوف او ادب.** ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

۷ـ غنی خان. (۲۰۱۲). **لټون.** پېښور: څلورم چاپ. یونیورستی بُک اېجینسی.

۸ـ ناګار، فضل ولی. (۱۳۹۱). **عرفان** (او د پښتو ادب په لرغوني دوره کې یې څرکونه). ننګرهار: دویم چاپ. ناګار خپرندویه ټولنه.